الحمد لله رب العالمين والصلاة، والسلام على محمد بن عبد الله، وعلى آله وصحبه ومن اتبعه بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

الله تعالى په زندګۍ کې په انسان د ډيرو بهترو موسمونو انعام کړی، ترڅو نيکي کونکی ورته ځان نږدې کړي، ګناهګار توبه وباسي او شا کونکی الله تعالى ته مخه کړي، دغه موسمونه د الله تعالى بازارونه دي چې د جنت مينه والو ته پکې د جنت سودا وړاندې کيږي، د ابو موسى اشعري ﵁ څخه روايت دی، وايي چې رسول الله ﷺ فرمايي:(په جنت کې داسې کوټې دي چې ښکاره خوا يې له دننه ښکاره او دننه خوا يې له بهر څخه ښکاري، الله تعالى د هغه چا لپاره تيارې کړي چې خيراتي خوراکونه ورکوي، نرمې خبرې کوي، پرلپسې روژې نيسي، سلام خپروي او د شپې په داسې وخت کې لمونځ کوي چې خلک ويده وي) [رواه أحمد وابن حبان والترمذي]

الله تعالى فرمايي: (وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ) [سورة آل عمران: ١٣٣] ترجمه: او تاسو د خپل رب مغفرت او هغه جنت ته په چټکتيا ولاړ شئ چې د اسمانونو او ځمکو په مقدار پراختيا لري، د متقيانو لپاره تيار کړی شوي دي.

په دغه غوره موسمونو کې چې الله تعالى يې د دې امت په مؤمنانو فضل کړی يو هم د رمضان مبارکه مياشت ده، چيرته چې د جنت دروازې خلاصيږي او د جهنم دروازې بنديږي، شيطانان تړل کيږي او د رمضان تر اخيره هره شپه يو غږ کونکی غږ کوي: ای د خير لټونکيه رامخ کړه او ای د شر لټونکيه بس کړه.

په دې عظيمه مياشت کې يو د مهمو اعمالو څخه د شپې نفل لمونځونه(قيام الليل) کول دي، نو پدې خاطر چې د دغه خير څخه مؤمن په ښه توګه ګټه واخلي، بايد په لاندې مسائلو ځان پوه کړي:

## لومړی: قيام الليل

ګرانه وروره! بايد پدې ځان پوه کړې چې تهجد، قيام الليل(د شپې نفل لمونځ)، د رمضان په شپو کې قيام او تراويح دا ټول د يوه نفل لمانځه نومونه دي، نووي د مسلم په شرحه کې وايي:(د رمضان د قيام څخه مراد د تراويح لمونځ دی)، د فيض الباري مؤلف د بخاري په شرحه کې د تراويح او د شپې د نفلو په اړه وايي:(زما په نزد غوره خبره دا ده چې دا دواړه يو شی دي) بيا د تهجدو او تراويح په اړه وايي:(بلکې دغه دواړه يو ډول لمونځ دی؛ که د خوب څخه مخکې وکړل شي تراويح ورته ويل کيږي، که وروسته وکړل شي تهجد بلل کيږي)، ابن حجر په فتح الباري کې د کرماني څخه نقل کوي وايي:(ټول علماء پدې اتفاق لري چې د رمضان د قيام څخه مراد د تراويح لمونځ دی)

## دويم: د قيام الليل فضيلت

• الله تعالى د خپلو نيکانو بندګانو په صفت کې فرمايي: {وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا} [سورة الفرقان: ٦٤] ترجمه: دوی هغه خلک دي چې شپه خپل رب ته په سجده او قيام کې تيروي، بل ځای فرمايي: {إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ * تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا



رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} [سورة السجدة: ١٥ – ١٦] ترجمه: يقينا زمونږ په آيتونو يوازې هغه خلک ايمان لري چې کله يې هغوی ته تذکره وشي، نو په سجده پريوځي، د خپل رب ثناء وايي او تکبر نه کوي، د هغوی اړخونه د خپلو بسترو څخه جدا وي(يعنې دشپې ولاړوي) د خپل رب څخه د ويرې او طمعې په حالت کې دعاء غواړي او د هغه څه نه کې مونږ دوی ته ورکړي خيرات کوي.

• د سهل بن سعد ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته يو ځل جبريل عليه السلام راغی او ورته يې فرمايل:(... ای محمده! د مؤمن شرافت د شپې په قيام او د هغه عزت د خلکو څخه په بې پروايي کې دی) [حديث حاکم په صحيح سند روايت کړی او ذهبي ورته هم صحيح ويلي]

• د ابو امامة الباهلي ﵁ څخه روايت دی، وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي:(تاسو بايد قيام الليل وکړئ، ځکه دا د نيکانو شان(عادت) دی، پدې سره تاسو خپل رب ته نږدې کيږئ، ګناهونه مو پرې ختميږي او د ګناه څخه پرې منع کيږئ) [حديث ترمذي، ابن خزيمه او حاکم روايت کړی]

• د ابو هريرة ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:(چا چې د رمضان قيام د ايمان او د اجر په خاطر وکړ نو ده ته به مخکني ټول ګناهونه وبښل شي) [صحيح بخاري او مسلم]

• د عبد الرحمن بن عوف ﵁ څخه روايت دری چې رسول الله ﷺ د رمضان يادونه وکړه نو ويې فرمايل:(يقينا رمضان داسې مياشت ده چې الله تعالى يې روژه فرض کړې او ما د مسلمانانو لپاره د هغې قيام سنت ګرځولی، نو څوک چې د رمضان روژه او قيام د ايمان له امله او د ثواب په نيت وکړي نو د ګناهونو څخه به داسې بهر شي لکه چې د مور څخه د پيدا کيدو په وخت دګناه څخه پاک وو) [حديث نسائي، ابن ماجه او ابن ابي شيبه روايت کړی، او ضياء المقدسي ويلي چې سند يې ګذارې والا دی]

•د ابي هريره ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي:(څوک چې د رمضان روژه د ايمان له امله د ثواب په نيت ونيسي نو ده ته به مخکني ګناهونه وبښل شي او څوک چې د ليلة القدر په شپه کې قيام د ايمان له امله د ثواب په نيت وکړي نو ده ته به مخکني ګناهونه وبښل شي) [متفق عليه]

## دريم: د قيام الليل آداب

علماء کرامو د قيام الليل ډير آداب ذکر کړي چې بعضې يې دا دي:

**١) اخلاص کول او ځان ته نه غره کيدل:** قيام الليل داسې يو عبادت دی چې سرخط او تاج يې اخلاص او ځان ته نه غره کيدل دي، ابن قيم وايي:(د نيک عمل کونکي انسان مخې ته په خپل عمل کې درې آفتونه راځي:١)خپل عمل ليدل او ورته غټ ښکاره کيدل،٢) په خپل عمل بدله غوښتل ٣)او په خپل عمل خوښيدل او پرې بس کول؛ د خپل عمل د ليدلو او ورته غټ ښکاره کيدو څخه به پدې خلاصيږي چې په خپل ځان د الله تعالى نعمتونه، فضل او توفيق ته سوچ وکړي او پدې پوه شي چې زه خو د الله په مرسته يم، دغه عمل مې د الله تعالى په خوښه وکړ نه د خپل ځان



په خوښه{وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ} او ستاسو خوښه تر هغې نه کيږي ترڅو د الله خوښه نه شي...[مدارج السالکين]

مطرف بن عبد الله وايي:(دا راته خوښه ده چې سهار له خوب را پاڅم او پښيمانه يم، نه دا چې ټوله شپه ولاړ يم او سهار راته ځان ډير څه ښکار او ځان ته غره يم)[حلية الاولياء]

**٢) مسواك:** د جابر ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي:(کله چې په تاسو کې يو تن د شپې لمانځه ته پاڅي نو مسواک دې ووهي) [ابن ابي شيبه]

ابوعبد الرحمن السلمي د علي ﵁ څخه روايت کړی چې هغه د مسواک امر کوو او ويلې يې: رسول الله ﷺ فرمايي:(کله چې بنده مسواک ووهي او بيا لمانځه ته پورته شي، نو ملايک يې شاته راشي او تلاوت ته يې غوږ کيږدي، بيا ورته رانږدې شي ترڅو چې د ده په خوله، خوله کيږدي، نو د لمونځ کونکي د خولې څخه د قرآن کوم لفظ نه ووځي مګر د ملائک سينې ته کوز شي ، نو تاسو خپلې خولې د قرآن لپاره پاکې کړئ)[بزار وايي: مونږ ته د علي ﵁ څخه پدې اړه د دې څخه غوره سند ندی معلوم او بعضې راويانو موقوف ذکر کړی]

د انس ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله د شپې لمانځه ته پورته شو، نو استنجاء به يې وکړه، بيا به يې اودس وکړ او بيا به يې مسوال وواهه، بيا به يې د خپلو زنانو په کورونو کې خوشبو لټوله) [مسند البزار].

د ابن عباس ﵁ څخه روايت دی چې(زه يوه شپه د خپلې ترور ميمونه ﵂ سره پاتې شوم، نو رسول الله ﷺ ويده شو بيا راپاڅيده، اودس يې وکړ او مسواک يې وواهه، دغه کارې څوځله وکړ) [المعجم الکبير د طبراني او سنن النسائي]

ام الدرداء ﵂ وايي:(دوه رکعته د مسواک سره د بې مسواکه اويا رکعتو څخه بهتر دي) [الجامع الصغير د سيوطي]

**٣) خوشبو لګول او خايسته جامې اغوستل:** دغه کار د ډيرو صحابه کرامو او نيکانو څخه نقل دی، د تميم الداري په باره کې راځي چې هغه په زر درهمه يوه جامه اغيستې وه او د شپې نفلو ته به يې اغوستله. [المجالسة وجواهر العلم] د ابن مسعود -رضى الله عنه- په باره کې راځي چې هغه ته د لمانځه پروخت پاکو جامو او خوشبو ډير خوند ورکوو، مجاهد-رحمه الله- وايي: صحابه کرامو به دا بهتره ګڼله چې د شپې د نفلو پروخت يو سړی خوشبو را واخلي او په خپلو بريتو او مخامخ ګيره يې ووهي [قيام الليل وقيام رمضان وكتاب الوتر].

**٤) بايد يو مؤمن د شپې پريوتو پر وخت** د قيام الليل نيت وکړي او خوب په دې نيت وکړي چې په عبادت کې قوي شي ترڅو پدې ورته ثواب حاصل شي، د عائشه ﵂ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: (هر څوک چې د شپې د پاڅيدلو اراده لري او خوب پرې غالبه شي نو الله تعالى به ورته د لمانځه اجرو ليکي او دغه خوب به پرې د الله تعالى له پلوه صدقه وي)

[نسائي، أبو داود، او مالك په الموطأ کې].

## څلورم: تراويح

**١. نومول:** ابن حجر -رحمه الله- وايي:(تراويح...د رمضان په شپو کې نفل لمونځ په جمع کولو ته وايي، دا لمونځ تراويح ځکه نومول شوی چې صحابه



کرامو به په لومړيو کې د دوه ځل سلام ګرځولو څخه وروسته استراحت کولو) [فتح الباري].

**٢. حکم:** ابن قدامه وايي:(پدې کې هيڅ شک نشته چې د تراويح لمونځ سنت دی، په اول ځل رسول الله ﷺ په خپله وينا او کړنه سنت ګرځولی)[المغني] په همدغه ډول وينا عيني په عمدة القاري کې هم کړي، مخکې حديث کې هم تيرشو چې رسول الله ﷺ فرمايي:(ما يې تاسو ته د شپې قيام سنت ګرځولی)، نووي وايي: د ټولو علماؤ پدې اتفاق دی چې دا يو مستحب عمل دی[شرح مسلم].

**٣. د تراويح د رکعتونو شميره:**

هر چې د رکعتونو شميره ده نو پدې کې د رسول الله ﷺ عملي سنت چې په صحيحو سندونو تردې دمه را رسيدلی، هغه د درې يا پنځه وترو سره اته رکعته دی، لکه چې د عائشه ﵂ څخه ابو سلمه بن عبد الرحمن پوښتنه وکړه چې د رسول الله ﷺ قيام الليل په رمضان کې څنګه وو؟ هغې وويل:(چې رسول الله ﷺ نه په رمضان او نه د رمضان څخه بغير د يوولس رکعته څخه زيات ندي کړي[متفق عليه].

او د ابن عباس ﵄ څخه روايت دی:(چې رسول الله ﷺ به د شپې ديارلس رکعته لمونځ کولو) [ترمذي]

د رسول الله ﷺ څخه په صحيح سند سره د دې څخه زياتې تراويح ندي ثابت او نه هغه خپلو صحابه کرامو ته د درې يا څلور ورځو نه زياتې په جمعه تراويح کړي، دعائشه ﵂ څخه روايت دی چې يوه شپه رسول الله –صلى الله عليه وسلم- په مسجد کې لمونځ وکړ نو يو شمير صحابه ورسره په لمانځه کې ګډ شول، راتلونکې شپه يې هم لمونځ وکړ نو خلک زيات شول، بيا په دريمه يا څلورمه شپه صحابه را ډير شول خو رسول الله ﷺ ورته رابهر نشو، کله چې سهار شو نو رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ته وفرمايل: ما هغه څه وليدل چې تاسو وکړل، ليکن زه د را وتلو څخه يوې خبرې منع کړم هغه دا چې ما سره ويره پيدا شوه چيرته دغه تراويح په تاسو فرض نشي) راوي وايي او دغه کار په رمضان کې واقع شوی وو، [حديث بخاري، مسلم او نورو روايت کړی] د جابر بن عبد الله ﵁ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ مونږ ته د رمضان په مياشت کې اته رکعته وکړل او بيا يې وتر وکړل.[حديث ابن خزيمه او ابن حبان، او ابويعلى په خپل مسند کې روايت کړی]

مګر د دې سنت طريقې څخه د شپې زيات لمونځ د ټولو علماؤ په نزد جائز دی، خو په هغه وخت کې چې لمونځ کونکی په اطمنان لمونځ کوي او دا عقيده نه ساتي چې دغه زيات لمونځ د رسول الله ﷺ سنت دی، ځکه په رمضان کې د اته رکعته نه زيات نفل لمونځ کول د صحابه کرامو او نورو سلف صالحينو رحمهم الله څخه په مختلفو شميرو ثابت دی، د بعضې سلفو نه شپاړل، د بعضو صحابه کرامو نه شل، د بعضې سلفو نه شپږ ديرش، څلويښت او داسې نور ثابت دي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:(... که چا څلويښت رکعته وکړل نو دا

هم جائزدي، اوپدې باب کې هيڅ شميره مکروه نه ګڼل کيږي) بيا وايي:(که د چا دا ګمان وي چې د رمضان په تراويح کې د رسول الله ﷺ څخه يوه خاصه شميره مقرر ده چې په هغې زيادتی او کمی نا روا دی، نو دغه انسان خطا شوی دی) [الفتاوی].

خو څوک چې د نبوي سنت او د سلف صالحينو او صحابه کرامو احوال ګوري نو هغه ته په ډاګه کيږي چې د رکعتونو شميره د شپې د قيام په برداشت پورې اړه لري، که څوک د اوږد قراءت او ارکانو برداشت کولی شي نوهغه شان لمونځ دې وکړي چې رسول الله ﷺ به کولو ځکه دغه د رسول الله ﷺ د عمل له امله افضل(غوره) دی او که څوک غواړي چې ټوله شپه و درېږي خوپه يوځل ډېرقيام نشي کولی نوهغه دې د خپل حالت مطابق لمونځ وکړي اګرکه ځلويښتوته ورسي، لکه چې د سائب بن يزيد څخه روايت دی دی چې عمربن الخطاب ﵁ أُبيَّ بن كعب ﵁ اوتميم الداري ﵁ ته امروکړچې په رمضان کې خلکو ته د تراويحو جمع ورکړي، نو امام به مئين(هغه سورتونه چې سل ته نږدې آيتونه لري) لوستل، دومره اوږد قيام به وو چې مونږ به په امسا ګانوتکيه کوله اومونږ به د لمانځه نه د سهارراختلوته نږدې فارغيدو. [حديث مالك په الموطّأ، نسائي، أبوداود اونوروروايت کړی] د عبد الله بن ابي بکرڅخه روايت دی چې ما د خپل پلارڅخه اوريدلي چې ويل يي: مونږ چې به د رمضان د قيام الليل څخه کور ته راستانه شولو نو خپلو خدمتګارانو ته به مو د بيړې امرکولو ترڅورا باندې سهار نشي. [ موطأ، اوشعب الايمان د بيهقي].

هرچې پدې زمانه کې رواج تراويح دي چې خلک ٢٣ رکعته په ٢٣ دقيقوکې سرته رسوي، هيڅ اطمنان پکې نه وي نودغه خالص بدعت دی اوپه سلف صالحينو او صحابه کرامو کې د هيڅ چا څخه ندي ثابت، بلکې څوک چې دغه کارکوي هغه د سلفوپه عمل پوه ندی او نه په سنت طريقه روان دی.

### ٤. په هر رکعت کې به څومر تلاوت کوي؟

پدې خبره ځان پوه کول پکاردي چې په سنت کې د آيتونو د هغې شميرې کوم تعيين نشته چې بايد په تراويح يا قيام الليل کې ولوستل شي، ليکن بعضې آثارشته اومونږ يې پدې خاطرذکرکوو چې انسان پرې د الله تعالی عبادت ته تشويق کړی شي:

مخکې دا خبره تيره شوه چې صحابه کرامو به هغه سورتونه لوستل چې سلو ته نږدې آيتونه لري، د ابي عثمان څخه روايت دی چې عمر﵁ قاريان په رمضان کې را ټول کړل، د لږ تيزتلاوت خاوند ته يې ديرش آيتونه، درميانه ته يې پنځه ويشت او د روند او په آرام تلاوت کونکي ته يې شل آيتونه مقرر کړل، عمربن عبد العزيز قاريانو ته د رمضان د قيام په اړه امرکړی وو چې شپږ ديرش رکعتونه به کوي اوورپسې به درې وترکوي او په هررکعت کې به لس آيتونه لولي. [مختصرقيام الليل لأبي عبد الله محمد بن نصربن الحجاج المَرْوَزِي].

### ٥. په تراويح کې ختم کول او د مصحف څخه تلاوت کول:

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي: هرچې په تراويح کې د قرآن تلاوت دی



نو دا د ټولو مسلمانانو په نزد مستحب دی، بلکې د تراويح تر ټولو لوی مقصد هم د قرآن تلاوت دی، ترڅو خلک د الله تعالی خبرې واوري، ځکه دا داسې مياشت ده چې پدې کې قرآن نازل شوی او جبريل ﵇ به رسول الله ﷺ ته په رمضان کې دور کولو.(رسول الله ﷺ د ټولو خلکو څخه ډېرسخي وو او ډېره سخا به يې په رمضان کې هغه وخت کوله چې جبريل ﵇ به ورسره مخامخ شو او د قرآن کريم دور به يې ورته کولو. [الفتاوی الکبری]

همدا ډول په تراويح کې د مصحف څخه هم تلاوت کولی شي، لکه چې د عايشه ﵂ اونوروسلفو څخه روايت دی، د ابن شهاب څخه چا دهغه چا په اړه پوښتنه وکړه چې په رمضان کې خلکو ته امامتي ورکوي او د قرآن کريم(مصحف) څخه تلاوت کوي، نو هغه وويل: د اسلام د پيل څخه به دغه کارکيده اوپه مونږ کې غوره خلکوبه هم د مصحف څخه تلاوت کولو [مختصرقيام الليل لأبي عبد الله محمد بن نصربن الحجاج المَرْوَزِي].

اودا هم جائزدي چې خلک د قرآن کريم ختم ته را غونډ شي، امام نووي په آداب حملة القرآن کې وايي: (دا خبره په تاکيدي ډول مستحب ده چې خلک د قرآن د ختم مجلس ته را غونډ شي)، بيا وايي:( دارمی او ابن ابي داود په خپل سند سره د ابن عباس ﵄ څخه روايت کوي، چې هغه به يو سړی مقرر کړی وو او د خلکو د تلاوت څارنه به يې کوله، کله چې به د کوم د ختم وخت راغی، دغه مقرر سړي به ابن عباس ﵄ خبرکړ، نو هغه به په ختم کې ګډون وکړ، ليکن دلته بايد پدې خبره په صحيح توګه پوه شو چې د سلف صالحينو او د دين د امامانو څخه د قرآن کريم د ختم دغه رواجي پروګرامونه، نعت خوانياني، خواږه ويشل او داسې نور بدعت کارونه نه دي نقل، نو بايد د دغو کارونو څخه په سختۍ سره ځان وساتو ترڅو د عبادت پرځای په بدعت کې واقع نشو.

### ٦. بعضې هغه کارونه چې په تراويح کې ندي پکار:

- په تلاوت او لمانځه کې پداسې شکل سره بيړه کول چې ډېر خلک د قرآن د پوهې او د لمانځه د ارکانو راګيرولو توان ونه لري، دا د امام له پلوه د هغه امانت سره خيانت دی چې د الله تعالی له پلوه ورته ورکړل شوی دی.
- بعضې خلک د تراويح د سرته رسيدو څخه مخکې امام پريږدي، چې پدې سره د ډېر لوی خير څخه محروم شي، کوم چې پدې حديث کې راغلی:(يو سړی چې د امام سره لمونځ وکړي تردې چې امام د لمونځ څخه را وګرځي، نو د دغه لپاره به د ټولې شپې قيام وليکل شي) [حديث نسائي، احمد، ترمذي اونوروروايت کړی]
- د ډېرو بدو او منکر عادتونو څخه يو دا هم دی چې په رمضان کې خلک د تراويح په شميره کې مناظرې کوي، ته به ګورې چې څوک اته رکعته کوي هغه د دې نه زياتورکعتونو والا ته بدعتي وايي او څوک چې شل رکعته يا زيات کوي هغه په خپل کارپورې دومره ټينګ وي، لکه سنت طريقه چې وي يا د ټول امت اجماع وي، نو پدې مناظرو او



کمشکش کې ترې ډېر خير پاتې شي، که چيرته دوی د سنت او د سلف صالحينو عمل ته کتلی وی نو دواړه خواوي به خوشحاله وی او د الله عبادت به يې په صحيح توګه کړی وی.

### پنځم: په تهجدو کې د سلف صالحينو رحمهم الله حال

١- د عبد الله بن قيس څخه روايت دی چې زه د عائشه ﵂ خواته ورغلم، نو هغې راته وويل: اې عبد الله د شپې نفل لمونځ مه پريږده، ځکه رسول الله ﷺ به دغه لمونځ کله هم نه پريښودو، کله چې به مريض يا ستړی وو، نو په ناسته به يې لمونځ کولو) [رواه أبو داود بإسناد صحيح].
٢- په صحيح بخاري او مسند احمد کې د ابو عثمان النهدي څخه روايت دی وايي: زه د ابو هريره ﵁ په کور کې اووه ورځې ميلمه شوم، نو هغه، د هغه ښځې او خادم به شپه تقسيموله، يوه دريمه به يې ښځه، بله به يې خادم او دريمه به يې ابو هريره ﵁ په لمونځ ولاړوو.
٣- ابو سليمان الداراني وايي: (که چيرته قيام الليل نه وی نو ما به په دنيا کې پاتې کيدل نه وی خوښ کړي، په الله تعالی قسم د شپې لمونځ کونکی په دومره خوندونو کې دی چې د دنيا د لوبو والا څخه ډېره زياته ده، د قيام الليل پروخت په زړه داسې حالات راځي چې د الله تعالی د ذکرپه خمارکې نڅيږي، زه په دغه وخت کې وايم: که چيرته جنتيان هم پداسې نعمتونوکې وي چې زه پکې يم نو دوی خوپه ډېرو لويو نعمتونوکې دي).
٤- محمد بن واسع باندې چې به کله شپه شوه نو په تهجدو به ودريد، د هغه کور والا وايي: د هغه حالت به داسې وو ، لکه د ټولې دنيا خلک چې يې وژلي وي.
٥- کله چې به خلک ويده شول نو ابن مسعود ﵁ به لمانځه ته پورته شو او د شهدو د مچيو په څيربه بنګيده تردې چې به سهارشو.
٦- طاوس ﵀ چې به کله په خپله بستره پريوت نو داسې به اوښته را وښته لکه دانه چې په ګرمه تبۍ اوړي را وړي، بيا به لمانځه ته پورته شو ترسهاره به ولاړوو، بيا به يې ويل: د جهنم ياد د عابدانو خوبونه ختم کړي.

دا او داسې نور ډېر آثار دي چې د سلف صالحينو عبادت او زيار په ډاګه کوي.

مسلمانه وروره! رمضان ډېره لويه او مبارکه مياشت ده، اجرونه پکې څو چنده کيږي، نو په ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د اسلامي خلافت په غازيانو لازم دي چې پدې مياشت کې خپل رب ته مخه وکړي او د خپل توان په پرتله د خپل رب عبادتونه وکړي، که هغه جهاد وي که تهجد وي، که د قرآن کريم تلاوت وي او که خيراتونه وي، ځکه د خيردروازې ډېرې دي.

د الله تعالی څخه سوال دی چې دغه مياشت زمونږ لپاره د مغفرت او د اور څخه د آزادۍ دروازه وګرځوي، او د خپلو مؤمنو بندګانو لپاره ښارونه فتح او د بندګانو زړونه خلاص کړي او اسلامي دولت ته په زمه کې واکمني ورکړي. اللهم امين.

وصلى الله على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم



